واکسین د مالوماتو بیانیه

Many vaccine information statements are available in Pashto and other languages. See www.immunize.org/vis

د واکسین د معلوماتو اړوند ډیری بیانونه په پښتو او نورو ژبو کې موجود دي. www.immunize.org/vis وګورئ.

# د منیګوکوکل B واکسین:
## هغه څه چې تاسو باید پرې پوه شئ

## 1. ولې واکسین وکړو؟

**د منیګوکوکل B واکسین** د **منیګوکوکل د هغې ناروغۍ** پر وړاندې د خوندیتوب په رامنځته کولو کې مرسته کولای شي چې لامل یې سیروګروپ B وي. د سیروګروپ A، C، W، او Y پر وړاندې د خوندیتوب رامنځته کولو په برخې کې د مرستې لپاره د منیګوکوکل بل واکسین شتون لري.

**د منیګوکوکل ناروغي** کولای شي چې د مننژیت (د مغزو او شوکي نخاع د طبقي مصابیت) او د وینې د مصابیتونو لامل وګرځي. حتې که چېرې یې درملنه هم ترسره شي، د منیګوکول ناروغي د هرو 100 مصاب شویکسانو له ډلې څخه له 10 څخه تر 15 مصاب شوي کسان وژني. او کوم کسان چې ژوندي پاتې کیږي، د هرو 100 کسانو له ډلې څخه شاوخوا 10 څخه تر 20 کسانو پورې په ځنو معلولیتونو لکه د اوېدو د حس له لاسه ورکولو، د مغزو زیانمن کیدلو، د بډوډي تخریب، د بدن د غړو له لاسه ورکولو، د تنفسي سیسټم په ستونزې، یا د پوستکي د پیوند له امله شدیدو داغونو باندې اخته کیږي.

د منیګوکول ناروغي یوه نادره ناروغي ده او د 1990 لسیزې راهیسې په متحده ایالاتو کې کمه شوې ده. که څه هم، دا یوه شدیده ناروغي ده چې په اخته شوو کسانو کې د مړینې د پام وړ خطر او دوامداره معلولیتونه لري.

هر څوک د منیګوکول په ناروغۍ اخته کیدلې شي. د لاندې کسانو په ګډون، ځینې خلک له لوړ خطر سره مخ دي:

یو کلن څخه لږ عمر لرونکي ماشومان

له 16 څخه تر 23 کلن نوي ځوانان او ځوان لویان

هغه خلک چې په معافیتي سیسټم باندې د اغیزې کولو ټاکلي طبي شرایط لري

هغه مایکروبیولوجسټان چې په معمول ډول سره د N. meningitidisایزولیټونو سره، هغه بکتریا چې د منیګوکوکل ناروغۍ لامل ګرځي، کار کوي

هغه خلک چې په خپلې ټولنې کې د ناروغۍ د شیوع له امله له خطر سره مخ دي

## 2. د منیګوکوکل B واکسین

د غوره خوندیتوب لپاره، د منیګوکوکل B واکسین له 1 څخه ډېر ډوزونه اړین دي. د منیګوکوکل B واکسین دوه ډولونه شتون لري. ورته واکسین باید د ټولو ډوزونو لپاره وکارول شي.

د منیګوکوکل B واکسین د هغو 10 کلنو یا ډېرو عمر لرونکو کسانو لپاره وړاندیز کیږي چې د لاندې مواردو په ګډون د سیروګروپ B منیګوکول ناروغۍ له لوړ خطر سره مخ دي:

هغه خلک چې د سیرو ګروپ B منیګوکوکل ناروغۍ د خپرېدنې له امله له خطر سره مخ وي

هر هغه کس چې توری یې تخریب شوي یا لرې شوي وي، د هغو خلکو په ګډون چې د نیمې دایرې د حجراتو په ناروغۍ اخته وي

هر هغه کس چې د معافیت سیسټم یو نادر حالت چې د "complement component deficiency" په نوم یادیږي، ولري

هر هغه کس د یو ډول درملو څخه چې د " complement inhibitor" په نوم یادیږي، لکه eculizumab (چې د "Soliris"® په نوم هم یادیږي) یا ravulizumab (چې د "Ultomiris"® په نوم هم یادیږي) ګټه پورته کوي

هغه مایکروبیولوجسټان چې په معمول ډول سره د N. meningitidisایزولیټونو سره کار کوي

دا واکسینونه د ناروغ او د روغتیایي پاملرنې د چمتو کونکي تر منځ د بحث پر بنسټ، هر هغه کس ته چې له 16 څخه تر 23 کلونو پورې عمر لري ورکول کیږي ترڅو د سروګروپ B منیګوکوکل ناروغۍ د اکثره فشارونو پر وړاندې خوندیتوب رامنځته کړي. د واکسین لپاره غوره عمر له 16 تر 18 کلونو پورې دی.

U.S. Department of Health and Human Services
Centers for Disease Control and Prevention

## 3. د خپل روغتیایي پاملرنې چمتو کونکي سره خبره وکړئ

خپل چمتو کونکي ته ووایئ که چېرې د واکسین تطبیق کونکی کس:

- د منيګوکوکل B واکسین له مخکیني ډوز څخه وروسته یې **یو الرژیکي غبرګون څرګند کړی وي**، یا یې **شدیدې، د ژوند ګواښونکې الرژي ګانې لرلې وي**
- **امیندواره وي یا ماشوم ته شېدې ورکړي**

په ځنو مواردو کې، ستاسو د روغتیایي پاملرنې چمتو کونکی شايي پرېکړه وکړي چې د منيګوکوکل B واکسین تر راتلونکي لیدنې پورې وځنډوي.

د منيګوکوکل B واکسین باید امیندواره مېرمنو لپاره وځنډول شي مګر دا چې ناروغ له لوړ خطر سره مخ وي، او د خپلې روغتیایي پاملرنې له چمتو کونکي سره تر مشورې وروسته د واکسیناسیون ګټې د هغه له احتمالي خطرونو څخه غوره وګڼل شي.

د کوچنيو ناروغيو لکه زکام لرونکي کسان، شايي واکسین شي. هغه کسان چې لږ یا ډېر ناروغ دي باید په معمول ډول سره د منيګوکوکل B واکسین له تطبیقولو څخه وړاندې د صحتمنده کیدو تر مودې پورې صبر وکړي.

ستاسو د روغتیایي پاملرنې چمتو کونکی تاسو ته لا ډېر مالومات درکولای شي.

## 4. د یو واکسین د غبرګون خطرونه

- د منيګوکوکل B واکسین له تطبیقولو څخه وروسته د تزریق په ځای کې درد، سوروالی، یا پړسوب، ستړیا، سردردي، د عضلاتو یا مفصلونو درد، تبه، یا تهوع رامنځته کیدلي شي. ځنې دا غبرګونونه له نیمايي څخه ډېرو خلکو کې چې واکسین یې ترلاسه کړی وي رامنځته کیږي.

خلک کله نا کله، د واکسین کولو په ګډون، له طبي اقداماتو څخه وروسته بېهوښه کیږي. که چېرې تاسو د ګنګس توب یا د لید د بدلونونو یا غوږونو کې د زنګ د آواز احساس کوئ، پدې اړه خپل چمتو کونکي ته ووایئ.

له هر ډول درملو سره، د یو واکسین لپاره خورا لږ چانس شتون لري چې د شدید الرژیکي غبرګون، یا بل جدي زیان، یا مړینې لامل وګرځي.

## 5. که چېرې کومه جدي ستونزه شتون ولري نو څه؟

وروسته لدې چې واکسین شوی کس کلینیک پرېږدي پدې صورت کې یو الرژیکي غبرګون رامنځته کیدلي شي. که چېرې تاسو د جدي الرژیکي غبرګون علایم (التهابونه، د مخ او ستوني پړسوب، تنفس کې ستونزه، د زړه چټک ضربان، پرکالتوب، یا کمزوري) وګورئ، له **9-1-1** شمېرې سره اړیکه ونیسئ او اړونده کس تر ټولو نژدې روغتون ته ورسوئ.

د هغو نورو علایمو لپاره چې تاسو اندېښمن کوي، د خپلې روغتیایي پاملرنې له چمتو کونکي سره اړیکه ونیسئ.

د نا مطلوبو غبرګونونو په اړه باید د واکسین د نامطلوبو پېښو د راپور ورکولو سیسټم (VAERS) ته راپور ورکړل شي. ستاسو د روغتیایي پاملرنې چمتو کونکی به دا راپور ثبت کړي، یا دا کار تاسو په خپله ترسره کولای شئ. د VAERS له وېب پاڼې څخه په [www.vaers.hhs.gov](http://www.vaers.hhs.gov) کې لیدنه وکړئ یا له **1-800-822-7967** شمېرې سره اړیکه ونیسئ. VAERS یوازې د غبرګونونو د راپور ورکولو لپاره دی، او د VAERS کارکونکي غړي طبي مشوره نه ورکوي.

## 6. د واکسین د زیان د جبران ملي پروګرام

د واکسین د زیان د جبران ملي پروګرام (VICP) یو فدرال پروګرام دی چې هغو کسانو ته د جبران لپاره جوړ شوی دی چې د ځانګړو واکسینونو پواسطه زیانمن شوي وي. د واکسین د تطبیق له امله د ادعا شوي زیان یا مړینې په اړه ادعاوې د ثبت کولو لپاره د وخت محدودیت لري چې د دوه کلونو په اندازه دی. د VICP له وېب پاڼې څخه په [www.hrsa.gov/vaccinecompensation](http://www.hrsa.gov/vaccinecompensation) کې لیدنه وکړئ یا **1-800-338-2382** شمېرې سره اړیکه ونیسئ ترڅو د دې پروګرام او د ادعا د ثبتولو په اړه مالومات تر لاسه کړئ.

## 7. زه مالومات څنګه ترلاسه کولای شم؟

- د خپلې روغتیايي پاملرنې له چمتو کونکي څخه پوښتنه وکړئ.
- له خپلې سیمه ایيزې یا ایالتي روغتیايي څانګې سره اړیکه ونیسئ.
- د واکسین د بستې او لا ډېرو مالوماتو لپاره د خوړو او درملو د اداري (FDA) له وېب پاڼې څخه په [www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/vaccines](http://www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/vaccines) کې لیدنه وکړئ.
- د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي له مرکزونو (CDC) سره اړیکه ونیسئ:
  - د 1-800-232-4636 (1-800-CDC-INFO) شمېرې سره اړیکه ونیسئ یا
  - د CDC له وېب پاڼې څخه په [www.cdc.gov/vaccines](http://www.cdc.gov/vaccines) کې لیدنه وکړئ.

Pashto translation provided by Minnesota Department of Health